

Ketabton.com
د کلیوالې پېغلې ارمان
(رېښتینې کیسه)
لیکوال: سید ادریس "سادات"
ډیزاین: سید عمران "سادات"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کليوالي پيغلې ارمان

## ناول

ليکوال: سيد ادريس سادات
ډيزاين : د بنار هلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسـ

د کتاب پېژندنه

---

نوم . د کلیوالي پیغلې ارمان| ناول .

لیکوال . سید سید ادریس سادات .

کمپوز . قاري ضیاء الحق عابد.

پښتۍ ډیزاین . سید عمران سادات .

مرسته . افتخار الله افتخار .

د لیکوال شماره . ۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱

چاپ کال . ۲۰۲۳\۲\۳ .

سادات چېنل. https://t.me/sadatketabtoon

سادات ګروپ . https://chat.whatsapp.com/Kxxowf0dlHRDKR

په خپل نوم د خپرولو حق يې هیڅوک هم نلري...

SA

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضیا الحق عابد

د سادات صاحب ناولونه واقعاً د ستایلو وړ دي

زه پخپله د سادات صاحب د ناول مینوال یم.

او د هر ناول نشرولو ته پې په پې صبرۍ په تمه یم.

دغه ناول د یوې پیغلې د ژوند داستان دی.

د هغې پېغلې د ژوند داستان دی.

چې د حکومت او تالیبانو د اخیري جنګ کیسه کوي.

دغه انجلۍ په ډېرو ستونزو ښوونځي ته د تلو اجازه له خپلې کورنۍ څخه اخلي.

خو هر کله چې پې کورنۍ اجازه ورکړي، نو حکومت بدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا هم دا انجلۍ دا واېي د ښوونځي د پرېښودو درد د مور او پلار د مرګ له درده کم دی.

***

د رمضان میاشت وه مور مې د پیشمني لپاره خواږه تیاروله، ماته هم

خوب نه راته، په موبایل کې مې ګوتې وهلې.

د سادات کتابتون غږو ته مې د هغوي غوښتل شوي کتابونه ورلیږل.

د ډېرو ورونو غوښتل شوي کتابونه مې ورولیږل، خو یو ورور یو ناول وغوښت؟

د صوفي نږۍ په نوم وو.

بدبختانه چې ماسره دغه ناول نه وو، نو ورته ومې لیکل:

ورور جانه دغه کتاب به خالي په عمومي کتابخانه تاسې پیدا کړی شۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسی کتابونه د انټرنیټ نړۍ ته نشي راپورته کیدای.

فکر مې نه وو، د موبایل پورته برخه مې راکش کړه، ګورم درې مسیجونه د یوه نمبر څخه راغلي وو.

انځور یې د انجلۍ وو، لیکلی یې وو، اسلام علیکم!

تاسې سادات صاحب یاست .

زړه نازړه مې ورته د سلام جواب ورکړ.

ورته ومې لیکل: وعلیکم سلام ورحمت الله

هو زه سادات یم رب العزت دې وکړي چې روغ جوړ او خوشحاله یاست.

آیا تاسې زما لپاره څه ضرور خبره درلوده.

ویل یې:

هو

ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ستاسې ناول برمته شوې مينه او لوی امپراتور ابدالي بابا، دواړه ناولونه ولوستل واقعا، چې ستاسې د ناول لوستلو کې يو بيل خوند اومزه پرته ده .

ځکه زه غواړم زما د دردیدلي ژوند کیسه هم ولیکی!

ماورته په جواب کی ولیکل :

له تشویق څخه مو نړۍ مننه،

زه به ستاسې د ژوند قیصه ولیکم او ان شاءالله چې تر ډیرو خلکو به یی ورسوم .

خو د اوس لپاره زه د لوی امپراتور ابدالي بابا ناول په ليکلو بوخت يم.

خير تاسې هم يوه يوه برخه راليږۍ.

زه به ليکم او نشروم به يې.

ويل يې زه يې په وايس ډول ترتاسې در رسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې يې تر نورو خلکو ورسوئ.

ورسره ومې منله، ورته ومې ويل:

قيصه مو شروع کړې!

په لومړي وابس کې يې خپل ځان معرفي کړ.

خپل نوم او خپل کلی يې راوښود.

ويې ويل:

د مهربانۍ له مخې، زما نوم او کلی به مې په ناول کې نه ذکر کوئ.

خو، وروسته يې وويل:

چې زه خير، زما نوم پکې وليکئ.

خو د کلي نوم مه نشروئ، ځکه په يو ناول کې د انجلۍ نوم ډير زيات رول لري.

خو د کلي نوم به ماته ډير زيات مشکل جوړ کړي.

او بل يې دا وويل چې د کتاب په پوخ باندې زما د سترګو انځور ولګوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو اوس چې تاسې د کتاب په پوښتۍ یا لومړۍ صفحې باندې کوم انځور وینئ، دا د هماغه انجلۍ انځور دې.

انجلۍ پدې ډول خپله کیسه پیل کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

ټکنده غرمه وه.

زموږ په کوسه کې، بغیر له ما او ورېې خور نه مې نور هیڅوک هم نه وو.

پلار می په بیړه له کور څخه راووت.

زما مشرانې خورګانې یې دواړه له لاسونو ونیولې او مکتب ته یې روانې کړې.

دا چې ما به د مکتب نورې انجونې کتلې چې هره ورځ به پخپله خوښه مکتب تللې .

نو زما هم له مکتب سره شوق پیدا شوې و،

غوښتل مې چې پلار مې ما هم لکه د نورو خویندو په څېر په ښوونځي کې شامله کړي، خو زه ډیره کوچنۍ وم،ځکه یې په ښوونځي کې هم نه پریښودم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د پلار سره په ډېرو زاريو روانه شوم، هرکله چې اداري ته ولاړو نو مدير صاحب مې پلار ته وويل:

کاکا جانه ستاسې لور ډېره کوچنۍ ده.

هغه به د دوه کاله انتظار وروسته ښوونځي ته راولېږي تر څو په ښوونځي کې يې شامله کړو، زه ډېره زياته خفه شوم ځکه مې خپل پلار ته وويل :

پلار جانه زه يې ولی په ښوونځي کی شامله نکړم؟

پلار می راته وويل:

ما درته وويل کنه لورکۍ چې تا وس په ښوونځي کې نه شاملوي.

زه هغه مهال ډېره زياته کوچنۍ وم، نه پوهيږم هغه هر څه مې ښنګه ياد دی.

د انجلی د وايس مسيج ختميدو سره می کوټې ته مور رانهوته ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر زر رازه چی پیشمنی وکړي.

ما شکرونه وباسل شکر چې واپس مسیج یې وانه ورید کنه زه یو ځوان وم او د هرڅه شک راباندې کېدای شو.

زه فکر کووم شاید مور مې اوریدلی هم وي نور نو والله اعلم، پیشمنی می وکړ اود سبا ورځی د روژی نیولو نیت مو وکړ .

د لمونځ کولو نه وروسته خپل یخ کولر ته کلارې پریوتم.

سهار می په سترګو باندی د لمر تیزه وړانګه ولګیده، راپاسیدم وراره می لقمان ګرځیده ورته ومی ویل:

هلکه لقمانه هغه پرده راکش کړه .

نور خوب رانغی، موبایل می راواخیست.

درې مسیجونه راغلي وو، چی پلی مې کړ داسې یې ویلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما باندې دوه کاله بغير د ښوونځي څخه فضول تير شول.

له دوه کاله انتظار څخه وروسته مې مشرې خور زه بوتلم او په ښوونځي کې يې شامله کړم.

زما لپاره هغه ورځ د اختر دورځې نه هم ډيره خوندوره وه.

زه دا وايم چې دا حقيقت دی د انجونو خوښي صرف د هغوي ښوونځی دی.

خو د هلکانو خوښي، چې زموږ په عمر کی وي.

هغه موبايل، خواږه شيزونه، روب اودب دبه ده.

هلکان چې هرکله زموږ په عمر کې شي، نو د ښوونځي په قيصه کې هم نه وي .

زه ډيره خوشحاله وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ به مې خور د خپلو همصنفیانو سره زموږ صنف ته راتله، زما د خور په صنفیانو کې زه په ځانګې باندې ډیره ګرانه وم.

هغه واقعا یوه مینه ناکه انجلۍ وه خدای خبر چې هغه به وس چیرته وي.

هغه انجلۍ زما ډیره یادیږي.

زموږ مکتب کې هلکانو او انجونو یو ځای درس وایه.

زما ورور  هم په مکتب کې وو .

ځانګه چې زما د خور ملګرې وه، نو هره ورځ به راتله زه به یې کانټین ته بوتلم، ماته به یې ډیر شیان اخیستل ځانګه واقعا چې خه انجلۍ وه.

ما خپل ښوونځي لوستلو ته ادامه ورکړه، دوه کاله می د ښوونځي هم ووتل، زه په دوهم صنف کې وم چې نیکه جان مې امر وکړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نور به زما مشره خور ښوونځي ته نه ځي
هغه یې له ښوونځي څخه منعه کړه.

زه په هغې خور مې ډیره زیاته خواشیني شوم.

خو خوشحاله پدی شوم، چی زه لا کوچنۍ وم او
له ښوونځي څخه یې منعه نکړم.

خور می په کور کښیناسته زه صرف په ځانګې
باندې په ښوونځي کې ډاډه وم ځکه هغه زما لپاره
داسې وه لکه یوه نږدې خپلوانه خو هرکله چې زه
دریم صنف ته ورسېدم .

نو ځانګه هم د خپلې کورنۍ لخوا په مکتب بنده
شوه، دا زموږ د کلي قانون وو.

چی دلته د څلورم څخه ډیر درس انجونی نشي
ویلای خو ځانګی ته د خپلې کورنۍ لخوا یو کال
ډیر وخت ورکړل شوی وو.

زه په دریم کې وم چې ورور جان مې په ښوونځي
کې زما وړې خویندې هم شاملې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خپل کوچني توب ته خوشحاله وم خو خفه پدې وم، چې بل کال به ما هم له مکتب څخه وباسي.

همدومره یې ویلي او نور یې موبایل خاموشه شوی وو.

ما هم خپله بستره ټوله کړه او خپل کار ته روان شوم، په سر مې درد وو.

په دې ورځ مې زړه هم کار ته نه کیده خو په هر حال په راډیو کې مې داستان ثبت کړ .

او د نشر څانګې ته مې وروسپاره.

د دولسو بجو خبرونو ته هم پخپله کښیناستم، داچې په هیواد کې نوی نوی د ااا حکومت راغلی و.

نو ډیر راپورونه پکې د شکایت کوونکو وو.

د دولسو بجو خبرونه مې هم وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلم د ماسپښین لمونځ مې داء کړ.

د لمانځه څخه چې فارغه شوم.

چوکیدار راته شاته ولاړ وو.

ویل یې چې:

د امر صاحب ستاسې سره کار دی.

حیران شوم.

ما ویل چې:

د امر صاحب به زما سره څه کار وي.

ورغلم ویل یې :

سادات صاحب خبرونه مو ډیر ښکلي و، خو د بیا ځل لپاره ټول شکایتونه مه نشروۍ.

کله ناکله د خوشحالۍ خبر هم نشروۍ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه وګورئ نن ااا د انجونو د مکتبونو د خلاصیدو پریکړه کړې.

ما ورته وویل : سمه ده مدیر صاحب نور به همداسی کووم.

له خونې څخه یې راووتم، زما د ااا سره هیڅ نه لګیده.

او نه مې هم زړه غوښتل چې په ننګه یې کومه خبره وکړم،

ځکه چې دوې د ملا د نوم نه د خلکو نفرت پیدا کوي.

زه د ااا په راتلو ډیر زیات خوشحال وم، ما ویل زه د اسلام نوم به یو ځل بیا په جهان کې وځلیږي.

او همدارنګه به زموږ د مقدس دین ټول پیروان سره متحد شي.

خو نه دوي خو د سل کاله مخکني خلافت (عثماني خلافت) کاني شروع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دې نه کړي هغې نه چې دعثماني خلافت
په  خېر دوي هم دا مفسد قوم په منډو نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

په هر حال زه یې له دفتر څخه راووتم، په سټېډیؤ
کې مې موبایل روښانه کړ،

چې ومې کتل د پخوانۍ شمیرې څخه یو څو نور
مسیجونه هم راغلي ؤ.

ویلي یې وو:

زمونږ ښوونځی کارش لګن نومیده، پدې ښوونځي
کې زمونږ د کورنۍ او خپلوانو نه یوازې زه پاته وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یو مې ورور پاته ؤ.

خو دا چې زموږ د ښوونځي تعداد زیات ؤ،ځکه نو انجونې یې ټولې یوې بلې لیسې ته ولیږلې، چې د ملالۍ لیسې په نوم یې نوموله.

موږ ټولو ته وویل شول :

چې سر د سبا نه باید دې لیسې ته رانه شو.

زه نوره نه پوهیږم، خو فکر کووم ورور مې پدې پریکړه ډیر زیات خواشینی شو.

ځکه هر کله چې مې ورور کور ته راغی، نو ډیر په خواشینۍ یې کور کې وویل:

د عایشې دوي ښوونځی یې بر کلي ته (ملا کلي ته) ته بدل کړ،

هو!

ریښتیا دا په یوه سبب ښه هم وشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ورور زما له وجې په ښوونځي کې سترګې په افتخار سره اوچتې نشوې ورلاې.

هغه یو داسې په ننګ مین هلک دی، چې زما لپاره به یې په ښوونځي کې له ځان څخه لویانو ته ډبول ورکول.

ما یوه ورځ ورته د یو هلک نه ویلي ؤ، چې پعذابوي مې په سبا یې د ټولو خلکو په مخ کې په هماغه هلک په وهلو کمیس شکولی وو.

او مخ یې ورته په وینو سور راړولی ؤ،

زما په خیال اوبو کې یې هم ورته څو غوپې ورکړې وې.

لدې سربېره هغه ماته ښوونځي ته د تګ تر اخیري ورځې پورې داسې کومه خبره ونکړه، چې زما د ښوونځي څخه زړه تور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پدې هم نه پوهېږم، چې زما ورور عرفان ولې زه لکه د نورو هلکانو په څېر له ښوونځي څخه نه منعه کولم.

خو پدې پوهېږم چې ورور نه مې په مکتب کې هیڅ،

نه په زور کې نمره وړاې شوه،

او نه هم په ښایست کې.

ځکه نو ډیرو زیاتو انجونې ورپسې مړې وې.

یو څو انجونو خو یې ماته انځور هم وخود،
خدای خبر چې د هغه انځور به یې له کومه کړی ؤ.

خو راته ویل به یې چې خورې آیا !

تاسې دغه هلک پیژنۍ ،

ما چې به وکتل حیرانه به شوم، چې دوی زما د ورور انځور له کومه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو وروسته راته معلومات وشو.

چې دې انجونو زما د ورور انځورونه له ادارې پټ کړي دي.

په هر حال مور به نور د ملالی نومي ښوونځي ته تللو، چې زموږ له کور څخه یې ډېره زیاته فاصله درلوده.

تقریبا اته، یا نه کیلو متره لرې به وه.

زما کورنۍ به ماته ویل:

ته ډیره کوچنۍ یې.

ته نور ښوونځي ته مه ځه .

خو زما مشر ورور هغوي پدې خبره خفه کول، او زه به یې پخپله لاس نیولې ښوونځي ته بوتلم.

زما په ټولګي کې دوې ملګرې وې.

چې یوه یې شګوفه نومیده، او بله ذاکره نومیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوي کور د کارش لګن مکتب سره ډېر زيات نږدې وو.

ځکه نو هغوي ته زه نږدې وم.

او هر کله چې به مې ورور نه ؤ، زه به د هغوي سره يو ځای ښوونځي ته تلم.

زموږ په ښوونځي کې نورې ټولې انجونې دري ژبانه وې.

په سلو کې لس فيصده پښتنې او نوي فيصده دري ژبانه پکې وې.

مور پدې ښوونځي کې په دري ژبه دومره وپوهيدو، چې دا به چا نه پيژنده چې موږ پښتانه يو،

يا دري ژبان.

موږ دومره په مينه سره وخت تير کړ، لکه د يوې مور اولاد چې يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیچا هم داسې څّه ونه کړل، چې د پښتنو او فارسیوانانو تر منځ اختلاف رامنځ ته کړي.

نورو صنفیانو به تل د تفریح په ساعت کې لوبې کولې لکه فوټبال، والیبال، باسکټبال.

خو زما هیڅ زړه نه غوښتل، تر څو دغه لوبې وکړم.

زه به تل د تفریح په ساعت کې هم پدې بوخته وم، تر څو د استاذ پاتې نوټ مکمل کړم.

له همصنفانو څخه به مې نوټ اخیسته، او هغه به مې لیکه.

خو د څو ورځو وروسته راپسې شګوفه راغله.

او په زور یې زما ټول کتابونه او کتابچې خپل بیګ کې واچول.

لوبې ته یې بوتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما لوبه نشوه کولای ځکه نو زه ورته په یوه خوا کې ناسته وم.

او د صنفیانو لوبو ته به مې چکچکې وهلې .

هغوي به تل راته ویل:

راشه!

لوبه وکړه خو،

ما به ویل:

زه لوبه نشم کولای،

تاسې مو خپله لوبه وکړئ زه مو نندارچي یم.

خو یوه ورځ زه شګوفه جانې  په زور راپاسولم،

او ویل یې:

هر څنګه چې وي، نن به ته دغه شوټ وهې.

ما چې هر کله شوټ وواهه، نو په پښه مې درد شو(!)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شګوفه، ذاکره، حسنا او ټولې همصنفیانې مې راغلې.

د ژړا مهال ؤ،

سخت درد ماشومتوب او بیا انجلۍ هم وم.

نو پدې به راپورې نه خاندۍ سادات صاحب چې ووایم.

ومې ژړل(!)

لیکوال: (!) دغه علامه د مزاق او خندا پر ځای ☹استعمالیږي.

خوندور وختونه وو، تېریدل.

یوه ورځ زما پلار د خپلې دندې لامله غوښتل تر څو زموږ ټوله کورنۍ کلي ته بوزي.

او ښار له موږ څخه پاتې کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صرف موږ کلي ته تللو نور ترونه او نیکه مې همدلته ښار کې پاتې کېدل.

ماته چې کلي ته د تګ خبر راورسېد ژړا ونیوم.

کڼه بار شوه.

د مکتب له صنفیانو څخه مې خدای پاماني واخیسته .

او نور موږ کلي ته روان شو.

په ټوله لاره کې مې د مکتب یادونه ذهن ته راتلل.

هغه ملګرې او هر هغه څه چې ما به ورڅخه خوند اخیسته.

غټه لارۍ د هلمند په لارو کوسو کې داسې روانه وه.

ته به وایې چې د ډېرې نیکمرغۍ په لور مې بیایې.

خو چې فکر به مې خپلې ایندې ته شو.

نو راته جوته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بيخي د ماتې په لور روانه يم.

د لارۍ د لاندې برخې نه په بار بار ګاز ووت.

د ښار ټولو خلکو راته لاسونه خوځول.

د دې ښار په پرېخودو ژړا راغله.

زه نه پوهېږم، چې له دې ښار سره زه څه اړيکه لرم.

په هر حال لارۍ په لږ وخت کې عمومي سرک ته ووتله.

او کلار کلار دښتو ته داخله شوه.

د يو ساعت له مزل څخه وروسته داسې سيمې ته ورسېدم.

چې د ښايستونو ذکر يې دلته نشم کولای.

يوه ډله پېغلې مې وليدلې چې منګي يې په ترخکو کې نيولي وو.

تر دا مهاله مې ګودر نه پېژانده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پلار مې راته معرفي کړ.

او ویې ویل:

دا انجونې ټولې ګودر ته روانې دي.

ما مې له پلاره پوښتنه وکړه:

پلاره انجونې په ګودر کې څه کوي.

او دا منګي یې ولې په ترخکو کې نیولي.

پلار مې وویل:

په کلي کې لکه د ښار په څېر بمبه نه راځي.

بلکې انجونې باید د ګودر څخه اوبه راوړي.

ګودر یو داسې ځای دی.

چې ډېرې اوبه لري، دا پخپله یو سیند دی.

خو حکومت ورنه جالونه تاو کړي دي.

او یو پیېردار هم لري.

تر څو کوم هلک دغه ځای ته ورنشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې یوې بلې خبرې ته فکر شو .

او له پلاره مې وپوښتل:

پلار جانه!

دا ولې بازې انجونې ساده منګي لري او بازې ګلدارمنګي لري.

پلار مې وویل:

دا یو راز دی .

کنه دلته په کلي کې هره انجلۍ ګلدار منګی اخیستی شي.

ځکه د دواړو قیمت یو دی.

خو:

تر همدې ځایه یې مسیج کړی وو او نوره خاموشه شوې وه.

ساعت ته چې مې وکتل د مازدیګر پنځه بجې به وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژېړ مازدیګری وو.

ژر ژر مې اودس تازه کړ.

او جمعه مو د خپل امر مولوي صاحب پسې اداء کړه.

هر کله چې مولوي صاحب سلام وګرځاوه.

نو د یو څو کارمندانو پوښتنه یې وکړه.

هغوي جمعه کې حاضرنه وو.

ځکه نو مولوي صاحب وویل:

که له نن څخه وروسته هر تن جمعې ته رانغی نو پنځوس افغانۍ جرمانه به ورکوي.

له دې سره زموږ د نشراتو مدیر ورته وویل:

مولوي صاحب!

که چیرې تاسې پدې کارمندانو جرمانه کیږدۍ .

نو دوي چې کوم لمونځ کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به د الله تعالی د ویرې، نه وي.

بلکې د جرمانې د ویرې، به وي.

او فکر کووم داسې لمونځونه به د الله تعالی په دربار کې هم د قبولیت درجه ونلري.

مولوي صاحب د نشراتو مدیر ته ډیرې سپکې سپورې وویلې.

او اخر یې د خپلې پریکړې په سرته رسولو باندې ټینګار وکړ.

د لمانځه له جاینماز څخه راپاڅېدم.

سخت تږی وم.

د کور ماښامي روح افزا ته مې سخت زړه شوی وو.

ځکه نو له راډیو څخه کور ته راغلم.

ورځ ډېره اوږده شوه.

ماښآمي ته لا یو ساعت پاتې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې موبایل مې روښانه کړ.

له شمارې څخه ډېر نور پیغامونه راغلي وو.

او ویلي یې وو.

پلار مې راته وویل:

ګلدار منګي تل کوزدن شوي ځوانان خپلو نامزاد شویو پېغلو ته د کوژدې په لومړۍ ورځ ورلیږي.

داسې ما هم کړي وو.

ستا مور ته مې د ټول کلي قیمتي منګی اخیستی وو.

د کلیوالو سترګې ورپسې شوې.

ځکه یې لومړی نارینه اولاد، رانه وو.

پلار مې وویل:

کاش زما لومړی اولاد نارینه وای.

کم از کم نیمایې بوج خو به یې زما له اوږو کم کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما مې پلار ته وویل:

پلاره آیا ته اوس د ښځینه اولاد په راوړلو خفه یې.

پلار مې سر د هو په بڼه وخوځاوه.

سخته خفه شوم.

ځکه په ما چې مې پلار څومره ګران وو.

دومره راباندې هېڅوک هم بل ګران نه وو.

او تر دا دمه یې ما تر خولې داسې کومه خبره نه وه اورېدلې.

دا لومړی ځل وو.

خو د کلي د مناظرو په لیدلو به مې بیرته خفګان ورک شو.

زموږ کلی تک شین ځای دی.

د انګورو رنګارنګ ونې، د انځرو ونې، همداسې د ښکلې هوا درلودونکی سیمه ده.

پدې کلي کې د سهار له طرفه قدرتي خوشبو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سهار کې بې ځمکه داسې خوندور بوی کوي.

ته به وایې:

چې وېې خورم.

زموږ هستوګنځی همدغه کلی شو.

زما خفګان حد نه لاره ځکه چې مکتب راڅخه پاتې شو.

زه که ویښه وم یا ویده.

د ښوونځي غم ډېره زیاته دردولم.

یوه شپه ویده وم.

خوب مې لیده چې په ملالۍ ښوونځي کې ناسته وم.

ټولګیوالې او ښوونکې ټولې راسره په خوا کې ناستې وې.

هر کله چې له خوبه راپاڅېدم.

نو زړه مې په ډېرې چټکۍ سره ټوپونه وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې خوا ته راغله.

په منډه يې يو ګيلاس اوبه راوړې.

هغه مې وخښلې او سترګو ته مې لاسونه ونيول.

دغه وخت مې فکر يو الهام شونډو ته ډالۍ کړ.

په هر حال هره شېبه او هره شپه کې راسره يې.

ای زما د ټولګي غمه رخصتي دې کومه ورځ ده.

د همدې ورځې په سبا عرفان ورور هماغه د ښار مکتب ته تلو.

نو ماته يې هم وويل:

تر څو بيګ تيار کړم.

ما ژر ژر بيګ تيار کړ.

او پدې ورځ مې د ډېر وخت وروسته له خپلو ټولګيوالو سره وليدل.

خپلې استاذانې مې هم وليدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګیوالو راسره ښه روغبړ وکړ.

له دوي سره مو خپل خواږه وختونه رایاد کړل.

پدې ورځ زه دومره خوشحاله وم.

چې اظهار یې زه په ډېر زیات وخت کې هم نشم کولای.

زما ارمان دا وو.

تر څو زه بیرته ښوونځی شروع کړم.

هر کله چې کور ته راغلم.

نو پلار ته مې وویل:

زه د ښار له مکتب څخه سه پارچه د کلي مکتب ته راوړم.

پلار مې راته وویل:

لور جانې که ته مکتب ختم کړې.

نو ولاکه د توربورانو له پیغورونو خلاص شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیر دی لورې د دې مکتب له غوښتنې تېره شه.
نور چې هر څه غواړې وغواړه.

زه به یې درته پیداکړم.
ما ورته وویل:
نه پلاره!
که زه مړه کیږم یا ژوندۍ کیږم.
ښوونځی وایم.
تر څو یوه ښه ژورنالیسته را څخه جوړه شي.
ژورنالسته یې نه پېژنده  څه یې ونه ویل.

پلار مې ډېر تنګ کړ .
ځکه یې راته د ښوونځي څخه سه پارچه راوړله.
ما په کلي کې خپل ښوونځي ته ادامه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مې څوک نه پېژندل.

خو چې ورغلم شاګردانې ناستې وې .

استاذ یې د امتحان تقسیم اوقات په تخته رساوه.

ما هم ژر ژر ولیکه .

دوي ټولو داسې فکر کاوه چې ما به د ښار په ښوونځي کې د ټول کال درس ویلی وي.

خو ما ټکی درس لا نه وو ویلی.

د همدې ورځې په سبا لومړۍ ازموینه وه.

فکر کووم.

د جغرافیه امتحان وو.

زه د شپې درس ته کېناستم.

او ټوله شپه مې په درس ویلو تېره کړه.

د شپې په اخیري حصه کې پاڅېدم.

تر څو د الله تعالی څخه دعا وغواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کامیابه مې کړي .

دا شپه تېره شوه .

په سبا یې زه ازموینې ته ولاړم.

امتحان مې ورکړ.

او د هرې ازموینې لپاره به مې د شپې تر ناوخته درس وایه.

شکر په هغه ازموینه کې بریالی شوم.

ډېر نور درس مې هم وویلې :

دا وخت راباندې د ورارہ له طرفه غږ وشو.

چې لالا وایې ادریس ته غږ کړه.

چې اذان ته لږ وخت پاتې دی.

ورته مې وویل:

سمه ده دادی درغلم.

رب ته مې ډېرې دعاګانې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه پکې دا هم وه.

چې یا ربه!

ته خو راته څوک پیدا کړه .

چې کوم ناول یا کتاب راته سپانسر کړي.

ما ډېر زیات ناولونه لیکلي .

خو تر اوسه یو هم چاپ ته وړاندې نشو.

که هر ورور مرسته وکړه ورڅخه مننډوی به یم .

روژه ماتې مو وکړ.

زه بېرته راغلم مسیج په نیماېي کې پاتې وو.

پلی مې کړ.

ویلي یې وو.

هر کله چې زه دولسم ته ورسېدم.

نو زموږ کلي ته تالیبان راغلل.

دا چې زما پلار په بهرنۍ موسسه کې دنده درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه نو په هماغه لومړی ورځ مو کډه بار کړه.

او موږ ولاړو ښار ته.

په ښار کې مې ځان د ملالۍ لیسه کې یو ځل بیا واچوو.

د خپلو زړو ټولګیوالو سره یوځل بیا یو ځای شوم.

خو سادات!

په همدې کال کې تالیبان ښار ته هم راننوتل.

د عسکرو او تالیبانو تر منځ نښته وه.

دا داسې یوه نښته وه.

چې ما پکې ډیرې خوېندې وکتلې چې بوره شوې.

ډېرې میندې مې وکتلې .

چې کونډې شوې.

موږ له کوره راوتل خو څه کوې چې د کور دالان ته هم نشو راوتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په کور به د نښتې په مهال کې ډيرى يا د اردو عسکر راننوتل.

يا تاليبان.

موږ دواړو ته پناه ورکوله ځکه چې دواړه زموږ ورونه وو.

بس د بيت ليکلو ښخه بغير نور څه راپاتې نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله ژاړم ژړولی وطن نشم.
ځان به هېر کړم هېرولی وطن نشم.

اخ مرګیه وطن ولې رانه غواړې.
ځان به در کړم درکولای وطن نشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

یوه ورځ مې یو عسکر د کور و مخ ته پړ مخې پروت وو.

فکر کووم.

په پښه لګېدلی وو.

هغه د پښې له درده زګیروي کول.

ما غوښتل تر څو مرسته ورسره وکړم.

خو چې ورتلم.

نو زما په مخ کې یې عسکر په سر باندې څلور ډزه وویشت.

زه په منډه کور ته ولاړم.

یخ ژمی وو.

په یخو اوبو مې ولامبل.

سادات هغه ډېر سخت وختونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما داسې حالت ولید.

چې هېڅ انسان به داسې حالت لیدلي نه وي.

زه سیاست کې کار نلرم.

او نه هم وایم چې دا ښه دی یا هغه ښه دی.

خو دومره پوهیږم.

او د ویلو حق یې لرم .

چې ټول یو افغانان وو.

اخر ولې مو د پردي په وینا خپل ورور واژه.

دا کیسه له تاریخه پټه نشي .

پاتېدلای.

او راتلونکې نسل کې به ضرورداسې خلک پیدا شي.

چې په دې یې خونده تاریخ به افسوس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاش د احمد خان او میرویس خان په څېر تاریخ مو پریخی وای.

په هر حال جنګ وو.

موږ ته به خلکو ویل چې کلي ته د تلو په ټولو لارو کې یې ماینونه ښخ کړي.

خلکو تر ډېر زیار وروسته یوه لاره پېدا کړه.

تر څو کلي ته پرې ولاړ شي.

د هلمند ټول ښار تش شو.

او خالي د جنګ ډګر ترې جوړ شو.

ټول خلک کلي ته ولاړل.

خالي  موږ پاتې وو.

بس زه مور پلار او مشرۍ دوه خویندې مې هم کلي ته روان شو.

په هره لار چې به جنګ وو.

پلار به مې هغه لاره بدلوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره حده ولاړو.

مور او پلار او کورنۍ مې مخکې وو او زه ورپسې وم.

منډې مو وهلې .

چې څو تیارې مو ولیدلې.

له لویدیځه راغلې .

فکر کووم د امریکا بېرغ پرې موښتی وو.

موږ منډې وهلې .

چې یو دم د شپیلي اواز مې تر غوږه شو.

زه لږه ودریدم.

مور پلار او کورنۍ مې را څخه ډېر مخکې ولاړل.

ما پخپلو سترګو لیدل چې آسمان ته پورته شول.

په هوا کې یې دردوونکې زګیروي وکړل.

او ټوله کورنۍ مې په حق ورسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما نور څه په یاد ندي .

د ډیرې وار خطایې نه بې هوښه شوې وم.

هر کله چې مې سترګې پرانیستلې.

نو ومې لیدل چې روغتون کې وم.

دا کابل وو.

د تیارې چلوونکو زه دلته راوستې وم.

ترجمان ته یې وویل:

Say him

I am sorry

مطلب دیته ووایه.

مور بښنه غواړو.

زه په انګلش پوهېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم له واره مې انګرېز له ګرېوانه ونیو.

لکه لیونۍ مې پرې ګوزارونه وکړل.

پیلوټ زما لاس له ګرېوانه لرې کړ.

او بغېر له کوم علته ووت.

ماته ایله معلومات وشول چې ولې خلک تالیبانو ته تللي دي.

زما په ځای که کوم ځوان وای نو ضرور به د خپل انتقام لپاره طالبانو ته، ته.

زه چې له جنګه وروسته خپل ښار ته ولاړم.

نو ښار مې د مرمیو په مردکیو لوټې لوټې شوی و.

هرې خوا د تالیبانو حاکمیت وو.

که چیرې ماته اوس ټوله نړۍ هم راکړې.

زه به یې څه کړم.

زما پلار نشته مور مې نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ مې ټوله له لاسه ورکړه.

کاش هغه یو وړور ځادر خو مې راپاتې وای.

هغه هم راڅخه دې بد مرغه امریکایانو واخیستل.

په ټوله کې زه دا خبره کووم.

چې پخواني حکومت راڅخه مور پلار او کورنۍ واخیستل.

او دې حکومت راڅخه زما ښوونځی واخیست.

ما د کورنۍ د مرګ درد ولید.

د خپلو وطنوالو د درد زګیروي مې واورېدل.

ماته اوس د ښوونځي درد بې تفاوته دی.

زه اوس نه پوهیږم .

څه وکړم.

چیرته ولاړه شم.

او چاته وژاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاش مور او پلار پخپلو مبارکو لاسونو ډولۍ کې کينولی وای.

ټول کلي ننداره کولای.

يو منګی مې په خپل لالي باندې د ځان لپاره شکرانه کړی وای.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کیسې د انجلۍ وینا:

مننه سادات صاحب له تاسې څخه چې د لومړۍ غونډې سره مو راته وویل:

چې سمه ده.

ستاسې کیسه به زه ضرور ولیکم.

خو اوس لپاره زه د لوی امپراتور ابدالي بابا ناول په لیکلو بوخت یم.

او هر کله چې هغه ناول پوره شو.

نو زه به ضرور ستاسې کیسه ولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوال:

که د کوم کتاب د چاپ چارې کوم ورور پخپل لاس کې اخیستلی شي.

نو کومک راسره ضرور وکړی.

واټساپ کې راته صرف یو مسیج وکړی.

مننه.

0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**